Deputy PM for Economic Affairs Office
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

دويم کال - ۱۸ مه ګڼه | پرله‌پسې ۳۲مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۴/۵/۱۵



په افغانستان کې هره اونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېږي. د افغانستان اقتصادي پرمختګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروستیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

**په دې ګڼه کې لولئ:**

۱- د لس زره میګاواټه برېښنا تولید تفاهمنامې لاسلیک

۲- د کابل او مسکو ترمنځ د سوداګرۍ کچې لوړېدل

# د لس زره میګاواټه برېښنا تولید تفاهمنامې لاسلیک



د ۱۴۰۴ کال د زمري میاشتې په ۱۱مه په کابل کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادراخوند په حضورکې د افغانستان اسلامي امارت د اوبو او انرژۍ وزارت او عزیزي انرژۍ خصوصي شرکت ترمنځ د برېښنا د تولید یوه مهمه تفاهمنامه لاسلیک شوه.

د تفاهمنامې د لاسلیک مراسمو کې د اوبو او انرژۍ سرپرست وزیرمحترم ملا عبداللطیف منصور دا د افغانستان له پاره یوه لویه لاسته راوړنه وبلله.

د عزیزي انرژۍ خصوصي شرکت مشر میرویس عزیزي وویل، د اسلامي امارت په ملاتړ او همکارۍ د دغې پانګونې له پاره قوي هوډ او پوره ژمنتیا لري. د عزیزي په وینا، په پروژه کې به ډېره سلنه افغانان کار وکړي او روزنه به ترلاسه کړي.

د تفاهمنامې پر بنسټ، عزیزي انرژۍ به له اوو کلونو څخه تر لسو کلونو په موده کې د لس میلیارده ډالرو په پانګونې سره لس زره میګاواټه برېښنا تولید کړي.

دا پروژه به د افغانستان په مختلفو سیمو کې پلې شي او د انرژۍ د تولید له بېلابېلو سرچینو څخه به په کې استفاده وشي. له لمر، باد، اوبو او د ډبرو سکرو څخه به برېښنا تولید شي. افغانستان په کال کې شاوخوا ۳۰۰ ورځې لمر لري چې دا په هېواد کې د لمریزې برېښنا د تولید ظرفیت لوړوي. دغه راز، په یو شمېر ولایتونو کې د بادونو موجودیت د بادي برېښنا له پاره ښه زمینه برابره کړې ده. افغانستان ډېر سیندونه او د بندونو جوړولو له پاره ښه ځایونه لري چې کېدلی شي ښه استفاده ترې وشي. تر اوسه د هېواد له اوبو څخه سالمه ګټه نه ده اخیستل شوې، خو اسلامي امارت د هېواد د اوبو مدیریت په لومړیتوب کې نیولی دی. سربېره پردې، په هېواد کې د ډبرو سکرو ډېر کانونه شته چې د برېښنا د تولید له پاره د استفادې وړ دي.

په داسې حال کې چې افغانستان د برېښنا د تولید ډېر ظرفیت لري، خو په تېرکې له دغه ظرفیت څخه په هېواد کې د برېښنا د تولید له پاره کافي استفاده نه ده شوې. همدا لامل دی چې افغانستان د برېښنا د کمښت له ستونزې سره مخ دی او اوسمهال د خپلې اړتیا ورېوه اندازه برېښنا له ګاونډیو هېوادونو څخه واردوي. د عزیزي انرژۍ شرکت له لوري تولید شوې برېښنا به نه یوازې په افغانستان کې د برېښنا د کمښت ستونزه له منځه یوسي، بلکې اضافه برېښنا به نورو هېوادونو ته هم صادره کړي.

د عزیزي انرژۍ خصوصي شرکت له لوري دومره ستره پانګونه د افغانستان د اقتصادي پرمختګ له پاره یو لوی خبر دی. د دغومره کچې برېښنا تولید سره به په افغانستان کې صنعتي فعالیتونه او د پانګونې کچه زیاته شي او ګڼ کاري فرصتونه به رامنځته شي. سربېره پردې، په افغانستان کې د عزیزي انرژۍ له لوري پانګونه به د نورو خصوصي شرکتونو د باور لامل شي او په افغانستان کې به پانګونې ته زړه ښه کړي.

دغه راز، د نوې کېدونکې او پاکې انرژۍ تولید د چاپېریال له پاره ګټوره ده او هېوادوالو او اقلیم ته یې زیان په نشت حساب دی.

# د کابل او مسکو ترمنځ د سوداګرۍ کچې لوړېدل

د روسیې له لوري د افغانستان اسلامي امارت له رسمیت پېژندنې وروسته د افغانستان او روسیې ترمنځ سوداګریزې اړیکې پراخه شوې دي. امارتي مسوولینو ویلي، د روان زیږدیز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د افغانستان او روسیې ترمنځ ۲۱۹ میلیونه ډالر سوداګري شوې ده.



د سوداګرۍ او پانګونې خونې مسوولینو ویلي، د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ برخه کې یو څه اسانتیاوې رامنځته شوې دي. د دوی په وینا، روسي مسوولینو ژمنه کړې چې د افغانستان سوداګري او صادرات به ومني.

د افغانستان اسلامي امارت له روسیې او نورو ټولو هېوادونو سره د اړیکو پراخوالي ته ارزښت ورکوي او د سوداګریزو اړیکو پراختیا او پیاوړتیا د سیمه ییز اتصال له پاره مهم ګڼي.

افغانستان روسیې ته تر ډېره وچه مېوه او د پخلي وسایل صادروي او له روسیې څخه نفت او ګاز او ځینې خام مواد واردوي.

د افغانستان او روسیې ترمنځ د سوداګرۍ کچې زیاتېدل د افغانستان د اقتصادي وضعیت له پاره مهم پرمختګ دی. دې سره به د افغانستان تولیدات او محصولات په ډېره اندازه روسیې ته صادرشي او د افغانستان کورنی اقتصاد به وده وکړي.